همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# د معلوماتو ساتنه

د ډیټا یا معلوماتو پروسس کول د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH مسؤلیت دی

د پوست آدرس:
Friedrich-Ebert-Allee 36 + 40, 53113 Bonn
Dag-Hammarskjöld-Weg 1–5, 65760 Eschborn

اړیکه:

pr-unit-afghanistan@giz.de

د معلوماتو د ساتنې له مسئول سره د اړیکې تفصیلات:

datenschutzbeauftragter@giz.de

**عمومیات**

د نړیوالې همکارۍ لپاره د آلمان ټولنه (GIZ) د نړیوالې همکارۍ لپاره یو عام المنفعه فدرال سازمان دی. موږ د خصوصي قانون لاندې د یو فدرال سازمان په توګه کار کوو. زموږ موخه د نړۍ د خلکو د ژوندانه د شرایطو د ښه کولو او د معیشت د بنسټ په توګه د طبیعي سرچینو د خوندي کولو په تړاو د پراختیايي پالیسۍ د موخو ترلاسه کول دي.

**د ویب پاڼې تحلیلونه**

هر ځل چې یو کاروونکی زموږ ویب پاڼې ته لاسرسی ومومي، او هر ځل چې یو فایل ډاونلوډ شي، نو دا معلومات په لاګ فایل کې خوندي کیږي.

- د کارول شوي براوزر تخنیکي توضیحات
- بې نومه IP پته
- نیټه او وخت
- پرانستل شوې پاڼه/ د ډاونلوډ شوي فایل نوم
- د لیږدول شوې ډیټا اندازه
- خبرتیا چې آیا د کتلو یا ډاونلوډ په اړه هڅه بریالۍ وه

ډیټا یا معلومات د اروپایي اتحادیې د ډیټا د ساتنې د عمومي مقررې (GDPR) د شپږمې مادې د لومړي f) بند پراساس پروسس کیږي چې اصلي موخه یې د دې ویب پاڼې د ښه کولو لپاره د هغه د کارولو په تړاو ځیرنه ده. کاروونکي د دوی د چلند د څیړنې لپاره د دوی د معلوماتو د کارولو په تړاو د اعتراض کولو اختیار لري. تاسو کولی شئ د لاندې (opt-out) انتخاب په فعالولو، د خپلې کارونې د معلوماتو د راټولولو مخه ونیسئ.

تاسو کولی شی هر وخت ستاسو د کتنې په تړاو د بې نومه راټولو شوو معلوماتو د ذخیره کیدو په هکله اعتراض درج کړئ، نو په دې توګه به په راتلونکي کې دا معلومات راټول نشي. مهرباني وکړئ د دې پاڼې په لاندنی برخه کې د آپټ آوټ (opt-out) اختیار وکاروئ ترڅو له شمېرنې څخه لرې شی.

**د اعتراض په اړه یادښتونه**

د دې موخې لپاره په الکترونیکي وسیله کې یوه کوکی (cookie) ځای په ځای شوې چې له دې ویب پاڼې څخه د کاروونکي د لیدنې پر مهال د هغه د معلوماتو د راټولولو مخه نیسي. د اعتراض د اغیزمن کیدو لپاره باید دا کوکی (cookie) په هره کارول کیدونکې وسیله کې ځای په ځای شوې وي. که چیرې بیلابیل براوزرونه یا انټرنیټي پروګرامونه (لکه انټرنیټ ایکسپلورر ، کروم ، موزیلا فایرفوکس) په یوه وسیله کې کارول کیږي، نو کوکي باید په هر براوزر کې ځای په ځای شي ځکه چې کوکي په ځانګړو براوزرونو (انټرنیټ پروګرامونو) کې ذخیره کیږي. مهرباني وکړئ دا هم په یاد وساتئ، که تاسو ټولې کوکي ګانې (cookies) حذف کړئ نو د اعتراض کوکي به هم حذف شي او بیا به له سره د هغه ځای په ځای کولو ته اړتیا وي.

**د اړیکي فورمې**

کله چې تاسو د اړیکې فورمه کاروئ، موږ ستاسو لومړي او وروستي نومونه او بریښنالیک پروسس کوو. دا معلومات د اروپایي اتحادیې د ډیټا د ساتنې د عمومي مقررې (GDPR) د شپږمې مادې د لومړي b) بند پراساس، د اړیکې په فورمه کې د مطرح شوې پوښتنې د ترلاسه کولو په موخه پروسس کیږي.

دا معلومات د SSL - کوډ شوي اتصال په کارولو GIZ ته لیږدول کیږي، کوم چې د غیر مجاز خلکو لپاره هغه ته لاسرسئ خورا ستونزمن کوي.

**کوکي ګانې (Cookies)**

دا ویب پاڼه کوکي ګانې یا هغه کوچني فایلونه چې د تخنیکي پروسس کولو لپاره لنډ متن لري، کاروي. له کوکي ګانو پرته – په بل عبارت، مثلاً کله چې کوکي ګانې په براوزر کې غیر فعالې شوي وي نو د دې ویب پاڼې بشپړ کارول امکان نلري.

لنډمهاله کوکي ګانې (Temporary Cookies)

PIWIK_SESSID, PIWIK ignore

د دې برخې کوکي ګانې د کاروونکي د تحلیل لپاره کارول کیږي (پورته وګورئ). دوی هیڅ ډول شخصي معلومات نه ساتي او د غونډې په پای کې یا د کاروونکي د سروې په پای کې، کوم چې په عمومي ډول هر دوه کاله وروسته ترسره کیږي، ختمیږي.

**ټولنیزې رسنی**

موږ په خپلو پاڼو کې د ټولنیزو رسنیو plug-ins کاروو (د بیلګې په توګه فیسبوک، ټویټر، انسټاګرام).

تاسو معمولا دا پلګ انونه (plug-ins) د اړوندو ټولنیزو رسنیو د لوګو له لارې پیژنئ. زموږ د ویب پاڼې د معلوماتو د محافظت تضمین کولو

لپاره، موږ دا plug-ins یواځې د "Shariff" په نوم حل لارې سره یوځای کاروو. کله چې تاسو لومړی ځل زموږ ویب پاڼې ته ننوځئ نو دا اپلیکیشن زموږ په ویب پاڼه کې د ټولنیزو رسنیو پلګ انونه (plug-ins) نه پرېږدي چې اړونده چمتو کونکي یا provider ته معلومات ولېږدوي.

یوازې که تاسو د اړونده تڼۍ پهکلیک کولو سره یو پلګ ان (plug-in) فعال کړئ نو له چمتو کوونکي یا provider سرور سره به مستقیمه اړیکه رامینځته شي (رضایت). کله چې تاسې پلګ ان فعال کړئ نو بیا ژر اړوند چمتو کوونکی یا provider دا معلومات ترلاسه کوي چې تاسې زموږ له سایټ څخه د خپلې موجوده IP پتې سره لیدنه کړې. که تاسو په ورته وخت کې خپل اړوند د ټولنیزې رسنۍ حساب (لکه فیس بوک) ته ننوځئ، نو اړونده چمتو کوونکی یا provider کولی شي زموږ له ویب پاڼې څخه ستاسې لیدنه ستاسې د ټولنیزې رسنۍ له حساب سره وتړي.

د پلګ ان فعالول د اروپایي اتحادیې د ډیټا د ساتنې د عمومي مقرراتو (GDPR) د شپږمې مادې د لومړي a بند پراساس د رضایت په معنی دي. تاسې هر وخت کولی شئ چې دا رضایت د راتلونکې لپاره له منځه یوسئ.

په کورپاڼه https:/www.ez-afghanistan.de/pa کې د ټولنیزو رسنیو پلګ انونه (plug-ins) په عادي توګه غیر فعال شوي دي. د دوی په فعالولو سره، تاسو د اړوند چمتو کوونکي یا provider د کارولو له شرایطو سره موافقه کوئ. سربېره پردې، د دې له فعالولو سره د اړوند چمتو کوونکي کوکی ګانو (cookies) فعالیږي.

کله چې تاسو زموږ ویب پاڼه پرېږدئ، د ټولنیزو رسنیو پلګ انونه بیا غیر فعال کیږي او کوکیز (cookies) حذف کیږي. د ټولنیزو رسنیو پلګ انونه باید هرکله چې زموږ ویب پاڼې ته مراجعه کوئ فعال شي.

د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د اړوند چمتو کوونکي یا provider د معلوماتو د ساتنې او د کارولو شرایط وګورئ:

**فیسبوک:** Provider Facebook Inc., 1 Hacker Way, Menlo Park, California, 94025, USA

- د محرمیت خبرتیا: https://www.facebook.com/policy.php
- د کارولو شرایط https://www.facebook.com/legal/terms

**انستاګرام:** Provider Instagram Inc., 1601 Willow Road, Menlo Park, California 94025, USA

- د محرمیت خبرتیا: https://help.instagram.com/519522125107875/?helpref=hc_fnav&bc[0]=Instagram%20Help&bc[1]=Privacy%20and%20Safety%20Center
- د کارولو شرایط: https://help.instagram.com/581066165581870

**ټویټر:** Provider Twitter Inc., 1355 Market Street, Suite 900, San Francisco, California 94103, USA

- د محرمیت پالیسي: https://twitter.com/en/privacy
- دکارولو شرایط: https://twitter.com/en/tos

د معلوماتو پروسس کول د اروپايي اتحادیې د ډیټا د ساتنې د عمومي مقرراتو (GDPR) د شپږمې مادې د لومړي A بند پراساس یوازې د کاروونکي په رضایت ترسره کیږي.

### د شخصي معلوماتو ترلاسه کوونکي

- معلومات دریم کس یعنی بل چا ته نه لیږدول کیږي.
- د عمومي اصل په توګه، معلومات دریم ځای ته نه لیږدول کیږي.

### د کاروونکي د حقونو په تړاو

تاسې حق لرئ چې:

- د معلوماتو په پروسس کولو اعتراض وکړئ
- ستاسې د شخصي معلوماتو او د هغه د پروسس په اړه پوښتنه وکړئ
- د اړتیا په صورت کې هغه سم کړئ یا د معلوماتو د پروسس د محدودیت یا د هغه د له منځه وړلو غوښتنه وکړئ

دا معلومات به بیا پاکیږي

که تاسو د دې ویب پاڼې په اړه کومه پوښتنه یا شکایت لرئ، نو مهرباني وکړئ د GIZ د معلوماتو ساتنې له مسئول سره اړیکه ونیسئ (پورته یاد شوي د تماس معلومات وګورئ). تاسو دا حق هم لرئ چې د معلوماتو د ساتنې د څار له چارسمبالي سره شکایت درج کړئ. پدې قضیه کې ځواب ویونکۍ د معلوماتو د ساتنې او د معلوماتو د آزادۍ لپاره د آلمان فدرال کمیشنر (BfDI) دی.

- English
- Deutsch

- دری